ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۶/۳۰

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
## (شپږ نویمه برخه)

### سید عبدالله

د حبیبیي له لیسي فارغ سوی دئ. ښوونکی او د معارف د وزارت کارمند. د حبیبیي د لیسي مدیر. په ۱۹۴۲ز کال کي د معارف په وزارت کي رئیس او بیا دمرستیال وزیر. په ۱۹۵۶ز کال کي د عدلیي وزیر. په ۱۹۵۷ز کال کي د کورنیو چارو سرپرست وزیر. (د ولسمشر داؤود د مرستیال سید عبدالاالله پلار.

### ډاکټر عبدالله سید سید [1]

د جنرال عبدالصمد زوی په ۱۹۳۰ز کال کي د لوګر په کلنګار کي زېږېدلی دئ. په ۱۹۴۸ز کال کي د استقلال له لیسي څخه فارغ سوی دئ. طب ته د چمتووالي دوره ئي د کابل په پوهنتون کي تیره کړه. او په ۱۹۴۹ز کال کي فرانسي ته لاړ. په ۱۹۵۸ز کال کي ئي د سوربون له پوهنتون څخه خپله دکتورا په فارماکولوژي کي واخیستله. په ۱۹۵۸ز کال کي کابل ته راستون سو. په ۱۹۵۹ز کال کي ئي د کابل په پوهنتون کي د فارماکولوژي د پوهنځي بنسټ کېښېښود. په ۱۹۶۰ز کال کي د فارماکولوژي د پوهنځي استاد او رئیس. په ۱۹۶۴ز کال کي پاریس ته لاړ او هماغلته وفات سو.

### سید احمد کاکا

د عبدالرحمن لودین پلار. ښوونکی. د (۱۹۰۹؟ زکال) د مشروطه غوښتونکو د غورځنګ غړی.

### قوماندان سید امیر

(د سید هاشم پاچا له اعقابو) د سید جلال کونړي زوی په ۱۸۹۶ز کال کي په ننګرهار کي زېږېدلی دئ. خصوصي زده کړي ئي کړي دي. د ۱۹۱۹ز کال د استقلال په جګړي کي ئي ګډون وکړ. په ۱۹۲۲ز کال کي د جلال آباد په ولایتي دفتر کي کاتب. په ۱۹۲۷ز کال کي د ننګرهار د بریکوټ حاکم. په ۱۹۲۹زکال کي د ننګرهار د امنیت او پولیسو قوماندان؛ په ۱۹۳۱ز کال کي د مزار شریف د امنیت او پولیسو قوماندان؛ په ۱۹۳۳ز کال کي د ننګرهار. په ۱۹۳۷ز کال کي کابل ته وغوښتل سو او د هاشم خان تر واک لاندي سیاسي زنداني سو. شاه محمود له زندانه آزاد کړ او په ۱۹۵۰ز کال کي میمني ته تبعید سو او بیا په ۱۹۵۲ز کال کي هرات ته تبعید سو. په ۱۹۵۵ز کال کي ورته اجازه

[1] - SAYYID ABULLAH SAYYID : په اصلي متن کي په عربي ژبې همداسي چي پورته لیکل سوي دي هم دغسي لیکل سوي دي. زه تبصره نه کوم خو دلته ددي نوم په لیکلو کي ما ته تیروتنه ښکاري. – ژ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځير و لولـئ

ورکړل سوه چي ننګرهار ته ستون سي. د خلقيانو د واکمنۍ پر مهال ئـې يو زوی او دوه غبرګ ورونه له لاسه ورکړل. په ۱۹۸۰ز کال کې پاکستان ته کډه سو او تر اوسه دلته د مهاجر په توګه ژوند کوي. د پښتو او دري شاعر. مورنۍ ژبه ئـې پښـتو ده.

## سيد بابه/ بابا

د ملکي هوايي چلند پيلوټ. د ۱۹۸۰ز کال د جنورۍ په مياشت کې د آريانا هوايي شرکت رئـيس. د خپل وادۀ له لارې له ببرک کارمل سره خپلوي لري. د ۱۹۸۳ز کال د مارچ په مياشت کې ووژل سو.

## سيد غلام حيدر

د سيد غلام سرور پاچا زوی په ۱۸۸۷ز کال کې زېږېدلی دئ. خصوصـي زده کړې ئـې ترلاسه کړي دي. د اعليحضرت امان الله خان يو پيرو. له ۱۹۲۱ تر ۱۹۲۲ز کال پورې توركيې ته د افغان استازي په توګه ولېږل سو. له ۱۹۲۲ تر ۱۹۲۵ز کال پورې د کرنې د وزارت او د ټولګټو د وزارت کارمند. په ۱۹۲۷ز کال کې د سياسي چارو عمومي مدير. زنداني سو او په ۱۹۴۲ز کال کې وفات سو.

## سيد حبيب

د کابل له سيدانو څخه دئ. د اعليحضرت امان الله خان د ماليې د وزير، مير هاشم ورور. له ۱۹۲۸ تر ۱۹۴۸ز کال پورې د کابل ولايت مستوفي. د سيد قاسم رشتيا، مير محمد صديق فرهنګ او رقيه حبيب پلار. په ۱۹۴۸ز کال کې وفات سو.

**سيد حسن** : وګورئ : هېـواد پال

## سيد کمال

د ۱۹۳۳ز کال د جون د مياشتې په شپږمې نېټې ئـې د پخواني ولسمشر محمد داؤود پلار محمد عزيز په برلين کې وواژۀ. کمال که د امان الله خان پلوی او د برتانويانو ضد وو خو د چرخي له کورنۍ سره ئـې کوم څرګند تړاو نـۀ درلود. دی په ۱۹۲۲ز کال کې جرمني ته د محصل په توګه لاړ. ويل کېـږي چي د اعليحضرت امان الله خان له ورور شهزاده عبيدالله سره ئـې تړاو درلود او په برلين کې ئـې له شهزاده عبيدالله او د امان الله له مور سره ژوند کاوۀ. د ۱۹۳۴ز کال د جولای د مياشتې په شپږمې نېټې د قتل په تور محکوم او د ۱۹۳۵ز کال د جنورۍ د مياشتې په ۱۴ نېټې په جرمني کې اعدام سو.

## سيد خليل

د زيوري په نوم هم شهرت لري. په ۱۹۳۰ز کال کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۶۸ز کال کې د کابل ټايمز محرر. د افغان هوايي چلند د روزنې د مرکز مدير. په کابل او انګلستان کې ئـې په راډيو انجنيرينګ کې تحصيل کړی دئ. ژورناليست دئ. مورنۍ ژبه ئـې دري وه. په ۱۹۸۳ز کال کې وفات سو.

## سيد تاج الدين


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

په ۱۹۱۱ز کال کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۳۳ز کال کې د باندنيو چارو په وزارت کې مقرر سو. د آرشيف، پروتوکول او سياسي چارو په مديريتونو کې ئـې کار وکړ. په کراچۍ، مشهد، مرو او بمبئـي کې ئـې په افغان ديپلوماتيکو استازيتوبونو کې کار وکړ. له ۱۹۶۴ تر ۱۹۶۶ز کال پورې د باندنيو چارو په وزارت کې د اداري چارو عمومي مدير. د ۱۹۶۶ز کال د جولای د مياشتې په ۱۱ نېـټې د عراق سفير. له ۱۹۶۶ تر ۱۹۶۹ز کال پورې په سعودي عربستان کې د افغانستان سفير. له ۱۹۷۰ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د باندنيو چارود وزارت د اداري چارو مرستيال وزير.

## اصحاب الدين سيدي

د سيد محمد خان زوی په ۱۹۳۴ز کال کې په لغمان کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۳ز کال کې له حربي ښوونځي څخه فارغ سو، او په ۱۹۵۶ز کال کې له حربي پوهنتون څخه فارغ سو. د دفاع د وزارت د مهماتو په څانگه کې بريدمن. په ۱۹۵۶ز کال کې د حربي پوهنتون د اداري چارو مرستيال بولندوی. په ۱۹۵۶ز کال کې د امريکا د متحده ايالاتو په فورت ناکس، کن تاکي کې په زغره وال پوهنځي کې افسر زده کوونکی[2]. په ۱۹۵۹ز کال کې د حربي پوهنتون مدرس. په ۱۹۶۲ز کال کې ئـې د تورن رتبې ته ارتقاء وکړه. په ۱۹۶۸ز کال کې جگړن سو. له ۱۹۷۰ تر ۱۹۷۳ز کال پورې "تر نظارت لاندې" د احتياط افسر. په ۱۹۷۳ز کال کې ډگروال سو. په ۱۹۷۳ز کال کې د بلخ د ولايت د اتلسمي پلي فرقې درستيزوال. په ۱۹۷۶ز کال کې د کابل د اتمې پلي فرقې درستيزوال. له ۱۹۷۶ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د احتياط افسر. په ۱۹۷۸ز کال کې د کابل د پلچرخي په زندان کې سياسي زنداني. د ۱۹۸۰ز کال د جنورۍ په مياشت کې له زندانه خوشې او په تعليقي حبس په کور کې تر نظارت لاندې ونيول سو. د ۱۹۸۰ز کال د نوامبر په مياشت کې پاکستان ته وتښتـېد او له هغه ځايه د امريکا متحده ايالاتو ته راغی او د کولورادو د دنوَر د ټولنيزې سوکالۍ په دفتر کې کار کوي.

## عبدالوکيل صداقت

د موسی شفيق د اکا زوی په ۱۹۲۸ز کال کې د کامې په لند بوچ کې زېږېدلی دئ. په ولسي جرگې کې د ننگرهار د کامې استازی. په خوست کې قاضي. د پښتو اکاډيمۍ مرستيال رئـيس. د کابل په عربي درالعلومو کې ئـې زده کړې کړي دي. ويل کېږي چې د افغان ملت غړی دئ، خو له ۱۹۷۸ز کال وروسته پاکستان ته لاړ او د گيلاني له ډلې سره کار کوي. مورنۍ ژبه ئـې پښتو ده.

**سراج** : وگورئ : سراج

## سيد مؤمن ستومان

د سيد عبدالله زوی، په ۱۹۰۴ز کال کې د کابل پغمان ته نـېږدې زېږېدلی دئ. خصوصي زده کړې لري او هم ئـې د ښوونکو د روزنې او پوځي ښوونځيو کې زده کړې کړي دي. د حکومت په بېلابېلو ارگانونو کې کاتب. د کانونو د وزارت کارمند. شاعر.

[2] -Student Officer, US Armor School, Fort Knox, Kentucky


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**غلام محـي الدين شهباز**

د ۱۹۷۸ز کال د مي په مياشت کې د مرکزي احصائـيـي د دفتر عمومي رئـيس. په ۱۹۸۰ز کال کې د پلان د وزارت د احصائـيي د برخي مرستيال وزير.

**غلام محـي الدين شبنم**

د ميرزا عبدالرحمن زوی په ۱۹۳۵ز کال کې په غزني کې زېږېدلی دئ. تحصيلات ئـي په کابل او فيليپين کې کړي دي. د دارالعمعلمينو په هنري مرکز کې ښوونکی او هنرمند. همدا شان د ښووني او روزنـي د انستيتيوت لپاره د آزموينو او علمي خپرونو لپاره رسامی کاړي. د کابل د ښکليو هنرونو په ښوونځي کې ښوونکی. د نقاشانو د اتحاديي رئـيس. ددي ترڅنگ فوق العاده ماهر انځورگر دئ، د راډيو کابل يو مستعد سندرغاړی او ممثل هم دئ. شاعري هم کوي.

**ډاکټر فقير مـحـمـد شفاء**

په ۱۹۰۹ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د حـبـيـبـيـي په ليسي کې ئـي زده کړې کړي دي او په ۱۹۳۸ز کال کې د کابل پوهنتون د طب له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. د ولسي جرگې د اتمي او نـهمي دورې غړی. د مشرانو جرگې انتصابي سناتور. د علي آباد په روغتون کې د طب ډاکټر. د پوهني او ربنتين مدالونه ئـي اخيستي دي. مورنی ژبه ئـي دري ده.

**شفيعي** : وگورئ : بارق شفيعي

## نور بيا

**مـحـمـد موسی شفيق**

د مولوي مـحـمـد ابراهيم کاموي زوی، په ۱۹۳۰ز کال کې...

## قدرمنو لوستونکو! د ښاغلی رحمت آريا د آرشيف: لينک


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ